# رحمان بابا او صديق اشنغرى

## Comparative Study of Rahman Baba and Sadique Ashnagharai

ډاکټر محمد زبېر حسرت[*]

**Abstract:** *Rahman Baba is one of the three main pillars of Pashto Classic Poetry. Due to his very simple style/diction and teaching of morality, he has become the most known and referred poet in all the ages. His popular diction attracted several poets of that era to express their thoughts in the same frame as Rahman had been. Sadique Ashnagharai is one of the main successors of Rahman's diction. In this research paper, the scholar has presented a comparative account of both of the poets. The paper also validates some of the historical events that are equally presented in the paper and help the historians to keep the record straigh*t.

"د صديق ديوان" چې د افغانستان د علومو اکادمۍ د ژبو او ادبياتو انستيټيوټ له خوا په 1358هـ ش کښې د خېرنوال دوست شينواري په سريزه او تصحيح او د څېړنيار عبدالواجد واجد او سعد الله په اهتمام شائع شوى دى. د ديوان د سريزې "صديق څوک ؤ؟" د عنوان تر مخه د صديق د پېدائش کال 1070هـ ق ښائي ځکه چې صديق خپله شاعرۍ کښې يو نظم د خيبر په خوني حادثه ليکلى دى او په هغې کښې ئې د خوشحال خان ختک سره د ايمل خان مومند او دريا خان اپريدي تذکره هم کړې ده او دغه وخت ئې ځان ته هلک وئيلي دي او د "هلک وئيلو" په مناسبت تري د افغانستان عالمانو هغه وخت د هغهٔ عمر (8-16) کاله فرض کړى دى او په دغه وجه ئې د پېدائش نېټه 1070هـ ق تخمين کړې ده. دې سلسله کښې د څېړنوال دوست شينواري د سريزې دا پيراګراف د لوستو سره تعلق لري:

"د دغې جګړې (د خيبر جنګ- راقم) په وخت (1083هـ ق) کښې صديق ځان هلک بولي. د هلک له کليمې څخه معلومېږي چې دى به (8-16) کلن ؤ او په دغه حساب به د (1070 هـ ق) د کلونو په حدودو کښې

---

[*] Associate Professor, Government Post Graduate College, Mardan

زېرېدلی وي. ضمناً په پورتني شعر کښې له دغې مصرعې (نۀ مومند ايمل شته، نۀ خوشحال ختهك، دريا شته) څخه څرګندېږي چې د خوشحال له مړينې (1100هـ ق) وروسته هم صديق څۀ وخت ژوندی ؤ"[1]

اوس هرکله چې صديق په 1083هـ ق کښې ځان ته هلك وائي او د هلك نه مراد د تي رودونکی ماشوم هم کېدی شي او د يوې محتاطې اندازې مطابق هغه ځوان ته هم وئېلی شي چې لابلوغت ته نۀ وي رسېدلی او بيا ښاغلی دوست شينواری ئې په دغه اټکل د پېدائش تاريخ 1070هـ ق را ښائي چې زما په خيال د 8 يا 16 کلونو په پېمانه بېخي سم نۀ برېښي، که په 1083هـ ق کښې د هغۀ عمر اتۀ کاله حسابوو نو بيا به ئې د پېدائش تاريخ د 1070هـ ق کال په ځای 1075هـ ق وي او که د شپاړسو کالو د عمر ئې حسابوو (چې غېر اغلب خبره ده چې د شپاړسو کالو هلك ځوانې او بلوغت ته قريب وي) نو بيا به ئې د پېدائش تاريخ 1067هـ ق کال وي نۀ چې 1070هـ ق کال، لکه چې ښېرن وال دوست شينواري بيان کړی دی، خو زما په خيال 1075هـ ق کال زيات اغلب دی او چې مونږ په دې نتيجه ورسو او دا خبره ومنو نو بيا په دغه بنياد صديق د مغل باچا اورنګزېب عالمګير، خوشحال بابا او رحمان بابا معاصر خو کېدی شي خو له هغوئ مشر هيڅکله نۀ دی لکه چې عبدالحليم اثر افغاني صاحب د مير عبدالصمد خان صاحب په کتاب "شاعر انسانيت" خپله مقدمه کښې د رحمان بابا د پېدائش نېټه 21 ماه جمادي الثاني 1038هـ ښيلې ده (چې زما ورسره اتفاق نشته) او هيڅ حواله ئې نۀ ده ورکړې او نۀ ئې کوم سند پېش کړی دی چې په کوم دليل (مقدمه، 13م مخ) او بيا ئې د حضرت سېد ادم بنوري د پير بهائي په طور د حضرت محمد صديق صديق پشاوري؟ ذکر کړی دی او دا ئې ليکلي دي چې حضرت محمد صديق صديق د پښتو ژبې په متقدمينو شاعرانو کښې د اوچتې پائې شاعر او اديب او په کوهاټ کښې ئې رحمان بابا ته

[1] د صديق ديوان، تصحيح او سريزه دوست شينواری، صديق څوك ؤ؟. 1358هـ ش(سريزه مخ ز)

انتهائي فيض رسان ياد کړی دی او وئيلي ئې دي چې رحمان بابا له دغه ځايه د خپلې شاعرۍ ابتدا کړې او يو مثالي او انفرادي شکل ئې اختيار کړی دی"(2) (مقدمه، 13م مخ، د اردو نه په اختصار پښتو ترجمه) حال دا دی چې د دې ټولو خبرو اثر صاحب هيڅ سند او دليل په ثبوت کښې نۀ پېش کوي بيا دا هم وائي چې رحمان بابا د صديق د ځينو غزلونو په بحر، وزن او قافيه جوابي غزلونه وئيلي دي او بيا ئې د صديق او رحمان بابا شعرونه د خپلې خبرې په دليل کښې وړاندې کړي دي لکه دا لاندېني بيتونه (ياد دې وي چې اثر صاحب د صديق بيتونه وړاندې او د رحمان بابا بيتونه وروستو درج کړي دي خو ما دغه ترتيب بدل کړی دی او وړاندې مې د رحمان بابا او وروستو د صديق شعرونه رانقل کړي دي).

رحمان بابا وائي چې:

د منصور و حال ته ګوره حال ئې څۀ شۀ
خدای دې فاش د هيچا نۀ کاندي پټ راز

او صديق وائي چې:

په منصور به روايت د قتل چا کړ
که څوک نۀ وی خبردار د دۀ له رازه

هم دغه رنګ د صديق په ديوان کښې مونږ د دغه مضمون لرونکي نور داسې شعرونه هم لولو چې:

که اسرار لکه منصور د چا ښکاره شي
عالمان چې ئې په دار نۀ کا نور څۀ کا

(29م مخ)

او دا بيت چې:

تل سزا د پرده درو ده که پوه ئې
خبردار په حقيقت شه له منصوره

(192م مخ)

او دا بيت چې:

عاقبت به ځان د دار سر کړې صديقه!
چې د راز وئېل منصور غوندې ښکاره کړې

(231م مخ)

رحمان بابا وائي:

هسې تلۀ کاندي و ګور ته ياران ژر ژر
لکه تلۀ کا و خپل کور ته کاروان ژر ژر

صديق وائي:

خپل ژوندون بيائي و ګور ته ياران زر زر
ګرندى تيارۀ تر برق د اسمان زر زر
لرې ملک ته په ورو تلۀ کله په کار دي
له هېواده درومي کور ته [1]کاروان زر زر

اثر صاحب د صديق بل دا بيت را اخستى دى چې:

د کامل ذکر صديق بويه حاصل کا
چې اګاه شي له غمونو له هوسه[2]

خو زما په خيال صديق دا ټول غزل د روښاني شعر او ادب باني مباني بايزيد انصاري پير روښان په عقيده د استحکام په طور ليکلى دى لکه چې د مقطعې نه ئې څرګندېږي. دغه غزل کښې د بايزيد انصاري تذکره په دې بيت کښې داسې کوي:

په ګفتار ثاني خپل ځان د بايزيد کړې
په کردار ئې ډېر بد تر سګ مګسه

[1] کورته دا دوه لفظونه په يو لفظ (کوټه) ليکلى شوى دى چې سم نۀ برېښي. (د صديق ديوان مخ 106)

[2] عبدالحليم اثر افغاني صاحب د صديق د دې شعر دوېمه مصرعه داسې ليکلې ده:
چې اګاه شي د غمونو له هرسَ ، او دې سره ئې د رحمان بابا بيت جوړ کړى دى. (شاعر انسانيت مقدمه 14)

چې د رحمان بابا د بیت سره ئې هیڅ سمون نۀ راځي "د رحمان بابا کلیات" کښې دا شعر داسې دی چې:

هم هغه ئې ژړوي چې خندوي ئې
نور څوك نشته د رحمان فریاد رس

اثر صاحب د رحمان بابا متعلقه بیت داسې لیکلی دی چې:

هر هغه مې خندوي چې ژړوي مې
بل څوك نشته د رحمان فریاد رس

(مقدمه، 14م مخ)

خو حقیقت داسې نۀ دی لکه چې اثر صاحب بیان کړی دی، صدیق د رحمان بابا د شاعرۍ محرك نۀ دی بلکې صدیق د رحمان بابا نه کشر خو معاصر ضرور دی او د رحمان بابا نه صدیق استفاده کړې ده نۀ چې د صدیق نه رحمان بابا اخذ او اکتساب کړی دی ځکه چې صدیق خپل یو بیت کښې "کرلاڼی" او "سړه بنی" دواړه یاد کړي دي او دا خبره هر څوك مني چې خوشحال بابا "کرلاڼی" او رحمان بابا "سړه بنی" دی او خوشحال بابا هم ځان ته په خپلو بیتونو کښې "کرلاڼی" او رحمان بابا هم ځان ته په خپله "سړه بنی" وئېلی دی. د خوشحال بابا شعر دی چې:

سل سړه بني دې تر دا یو غزل ځاریږي
نن چې دا پښتو ده کرلاڼي خوشحال وئیلې

او رحمان بابا وئېلي دي چې:

یو خوشحال یو کم سل خټك نور په طبیعت کښې
ځار شه د رحمان سړه بني له یوۀ فرده

د صدیق متعلقه بیت دا دی چې خپله شاعرانه تعلي ئې په کښې کړې ده:

سړبنی، کرلاڼی دواړه پښتانۀ هم
دا وینا د هیڅ یوۀ په کتاب نشته

او د صدیق د دغه بیت له رویه هغه داسې هله وئېلي دي چې د سړه بني (رحمان بابا) او کرلاڼي (خوشحال بابا) هر دواړو کتابونه (دیوانونه) ئې لوستي وو، ګویا صدیق چې کله شاعري شروع کوله او دیوان ئې د تدوین له مراحلو لانۀ ؤ را تېر چې خوشحال بابا او رحمان بابا خپل کتابونه (دیوانونه) جوړ کړي وو او صدیق لوستي وو او دا د دې خبرې ثبوت دی چې د صدیق د شاعرۍ اولنی یا مینځنی دور د خوشحال بابا او رحمان بابا د شاعرۍ د عروج دور او اوچت شهرت زمانه ده نو دی له هر دواړو وروستی شاعر دی.

د محترم اثر صاحب دا خبره هم سمه نۀ برېښي چې محمد صدیق صدیق؟ د پېښور دی ځکه چې د هغۀ د دیوان له داخلي شهادته مونږ په دې نتیجه رسو چې صدیق د اشنغر پیداوار دی خو استوګنه ئې په نوښار ده او په دغه بنیاد صدیق د اشنغر محمد زی دی د نوښار اوسنۍ ضلع په خوا د اشنغر یوه برخه وه. په دغه سلسله کښې د صدیق دا بیتونه د سند او ثبوت په طور وړاندې کوم:

درېغه که وطن په تورو غرونو د صدیق وی
مه وی په نوښار ملك ئې مه وی اشنغر

(108م مخ)

او دا بیت چې:

که د زړۀ رضا دې ده چې مجنون ګورم
تر مجنون صدیق بد تر شۀ په نوښار

(109م مخ)

او د دې ټولو داخلي شهادتونو باوجود هم کله چې محترم صدیق الله رښتین د صدیق د دیوان تعارف د کابل مجلې د 1343هـ ش کال په ځلورمه ګڼه کښې د دریو غزلونو سره کولو نو د دې خبرې سره چې "دا

نسخه د میا محمدي صاحبزاده له پاره په (1223هـ) کال کښې لیکل شوې ده" ئې دا هم لیکلي دي چې:

".... صدیق د شهزاده معظم مغلي همعصر دی او د اورنګزېب په عصر کښې وړوکی هلك ؤ، اصلاً د اشنغر ؤ خو د پېښور په ښار کښې اوسېدۀ او په ختېه د اشنغر مامنزی ؤ"(5)..

د ربشتین صاحب د نورو صحیح خبرو نه علاوه دا خبره سمه نۀ ده چې "صدیق د پېښور په ښار کښې اوسېدۀ او په ختېه د اشنغر مامنزی ؤ" او لکه وړاندې چې مو ووئېل صدیق یقیناً چې د اشنغر پېداوار دی خو استوګنه ئې په نوښار وه نۀ چې د پېښور په ښار کښې او هغه مامنزی نه بلکې محمد زی دی ځکه چې اشنغر د محمد زیو وطن دی.

صدیق چې خپل دیوان کښې د خېبر کومې خونړۍ پېښې ته اشاره کړې ده نو په داسې وخت کښې چې خوشحال بابا، ایمل خان مومند او دریا خان اپریدي وفات موندلی ؤ خو د حمزه خان یوسفزي د ژوند ثبوت هم ورکوي په دغه حواله د صدیق دا بیتونه د ځیرلو دي. دا بیتونه د صدیق د دیوان د غزل مسلسل یا نظم نما غزل نه ځای په ځای اخستی شوي دي:

وارۀ لېوني شول پښتانۀ چې پسې زغلي
ننګ و ته ئې شا کړه له مغلو غواړي زر
حق د پښتنو دی که اوس بیا د ننګ دپاره
سور په شهزاده کا دغه تور خوني خېبر

---

یاد دې وي چې محمدي صاحبزاده په 1220هجري کښې وفات شوی دی لکه چې علي خان ئې خپل یو غزل کښې د وفات دا تاریخ بیان کړی دی:

سن د هجر غرۀ سر د کاڼي ترې کم ترۀ :: ورځ وه دیارلسمه د ذی الحجې په تحریر کښې

قلندر مومند د محمدي صاحبزاده دیوان په مقدمه کښې د دې شعر دا توضیح کړې ده چې د لفظ "غر" چې د ابجدو په حساب 1200 جوړېږي او د "کاڼي" سر" ك" 20 نو دا 20 به 1200 سره جمع کول غواړي او 1220هجري د محمدي صاحبزاده د وفات کال ترې استخراج کیږي.

وړانــدې زۀ هلــك وم چــې پــرې ډوب محمــد امــين شــۀ
ښــۀ ښــۀ شـــهيدان وو ډېـــر مغـــل شـــو پـــرې ډېـــر
نــۀ مومنــد ايمــل شــته، نــۀ خوشـحال ختـك، دريــا شــته
نـــۀ لښـــكر غلجـــى، نـــۀ پښـــتنو خـــالي شـــۀ غـــر
هــيڅ نــۀ دي ناپوهــه يوســفزي د ننــګ پــه كــار كښــې
نـــوم ئـــې د زمـــري دى تـــر شـــغال دي لا بتـــر
ځنــې كــه منصـب خـوري خـو لاكـور پــه خپــل وطــن دي
ســـپى شـــو د مغلـــو حمـــزه ګـــوره ګېـــدي خـــر
حــال د پښـــتنو د ننــګ پــه كــار كښــې راښــكاره شــۀ
واړه هـــيڅ كـــاره دي بـــې حيـــا نـــامرد بشـــر
درېغـــه كـــه وطـــن پـــه تـــورو غرونـــو د صـــديق وى
مـــه وى پـــه نوښـــار ملـــك ئـــې مـــه وى اشـــنغر

(107، 108 مخونه)

د صـديق د شـاعرۍ لـه نـورو داخلـي شـهادتونو داسـې برېښـي چـې هغـه د خپـل اولـس مشـر، صـاحب جائيـداد، صـاحب نصـاب او پـه كلـي اولـس كښـې مخوريز سړى ؤ. لكه چې له دې بيتونو ئې اندازه په اسانه لګېدى شي:

يوســـفزي كـــه محمـــد زي كـــه بـــل فريـــق دى
دا همــه پــه مــا مطلــب كانــدي خپــل كــار درســت

(91م مخ)

نــۀ مــې لاس پــه ســخا ښــى پــه كــيڼ خبــر شــۀ
نـــۀ كمـــى كـــا زر يمـــين و تـــر يســـاره

(190م مخ)

د صـديق لـه شـاعرۍ داسـې برېښـي چـې د اورنګزېـب عـالمګير او بيـا د هغـۀ د اولاد شـاه عـالم (معظـم) او اعظـم شـاه دوران ئـې هـم ليـدلى دى لكـه چـې يـو بيـت كښـې د اورنګزېـب او بـل بيـت چـې وړانـدې مـو ولوسـتو "سـور په شهزاده كا دغه تور خوني خېبر" تذكره هم كوي چې:

د اورنـــګ پــه تخــت خنــدا صــدیق پــه دا کــړم
چـــې د یـــار د در د ســـپو شـــوم پـــه حســـاب زۀ

(205 م مخ)

او لــه دې وړانــدې پــه نــورو بیتونــو کښــې د اورنګزیــب نامــه داســې اخلي:

ازاده تــــر پېټـــي ســـــیوری د همـــــای دی
د اورنـــګ پــه تـــاج خوښـــي ملنګـــان نـــۀ کـــا
د اورنـــګ پـــه ســـلطنت بـــه ئـــې خنـــدا شـــي
پـــه هـــر چـــا چـــې مـــولا ســـیوری د همـــای کـــا

(15م مخ)

خېړنـــوال دوســـت شـــینواری د محتـــرم عبـــدالحی حبیبـــي د پښـــتانۀ شعراء په حواله مونږ ته دا خبر هم راکوي چې:

"پــه پښــتانۀ شــعراء کښــې د متوسـطې طبقـې شـاعر او د رحمـان بابـا لــه پېروانــو څخــه ګڼــل شــوی دی او پــه کابــل مجلــه کښــې د حمیــد غونــدې یــو نازك خیال شاعر بلل شوی دی"(6).

ولــې زمــا تــر فهمــه صــدیق د رحمــان بابــا پېروکــار خــو ؤ مګــر د حمیــد بابــا د نــازك خیــالۍ چــې د هنــدي سبك لــه اثــره ؤ پــرې هــیڅ اغېــزه نــۀ شــي لیــدی. البتــه دومــره وینــا ضــرور کــوم چــې صــدیق پــه کلاســیکي شــاعرانو کښــې د رحمــان بابــا، محمــدي صــاحبزاده، عبدالحمیــد مومنــد، علــي خــان او معــز الله خــان مومنــد د درجــې شــاعر ثابتېــدی شــي. ښــاغلی دوســت شینواري وړاندې لیکلي دي چې:

هــم دا رنګــه پــه صــدیق بانــدې د رحمــان بابــا اغېــزه هــم لیــدل کیــږي او (99) غزل ئې د هغۀ په ځواب کښې وئیلی دی لکه چې وائي:

بـــل غـــزل پـــه انتخـــاب چـــې کـــړې صـــدیقه!
د رحمـــــان د غـــــزل بـــــس دی دا ځـــــواب"(7)

صدیق دغه غزل د رحمان بابا د دې غزل په ځواب کښې وئیلی دی چې مقطع ئې دا ده:

په غزل کښې خو دوه بیته انتخاب وي
د رحمان تمام غزل دی انتخاب

(کلیات 61 م مخ)

خو له دغو پورتنیو غزلونو علاوه هم د صدیق په دیوان کښې نور ډېر داسې غزلونه شته چې د رحمان بابا په زمکو، وزن، بحر او ردیف قافیه لیکل شوي دي یا ئې په مضامینو کښې یکسانیت لیدی او محسوسېدی شي. مثلاً د رحمان بابا شعر دی چې:

د ازل په ورځ د برخو جواري وه
اې رحمانه! چا بائیللې چا ګټلې

او صدیق وائي:

د ازل د شویو منع به په چا شي
زیات و کم به روزي کوم یو مقدر کا

(7م مخ)

رحمان بابا وائي:

څو به شمېرم زۀ غمونه د هجران
دومره ډېر دي لکه رېګ د بیابان

او صدیق وائي:

ستا غمونه د صدیق په حساب نۀ دي
کله څوك به د دامان رېګونه شمار کا

(33م مخ)

د رحمان بابا مشهور غزل دی چې:

ما سحر سبا لیدلی ؤ د چا مخ
چې مې درسته ورځ و نۀ لیدو د ستا مخ

او هم په دې زمکه، وزن او بحر کښې صديق دا غزل وئيلی دی چې:

لکــه نــن راتــه څرګنــد شــۀ ښــکلی ســتا مــخ
هســــې نـــۀ دی چـــا ليـــدلی پـــه دنيـــا مـــخ

هـم پـه دې بنيـاد کـه د صـديق د درسـت ديـوان پـه ژور نظـر مطالعـه وشـي نـو معلومـه بـه شـي چـې صـديق پـه کلاسـيکي شـاعرانو کښـې د اوچتـې نـه بلکې د متوسطې درجې شاعر دی او د خپلې پراخې مطالعې لـه کبلـه پـرې نـۀ يـواځې د روښـاني شـاعرانو او خوشـحال بابـا ډيـر اثـرات دي بلکـې د رحمـان بابـا پـه تتبـع او پيـروي کښـې ئـې هـم ډيـره شـاعري کـړې ده چـې د رحمـان بابـا د شـاعرۍ سـره ډيـر هـم خيالـه، د يـوې موضـوع، وزن، بحـر او زمکو د يـو شـان والـي غزلونه او بيتونـه تـرې تـر لاسـه کيـږي او چـې دې خبـرې تـه ځيـر شـو نـو بيـا صـديق هـم د رحمـاني مکتـب شـاعر ثـابتيږي چـې سـرچينه ئـې د بايزيـد انصـاري پيـر روښـان د وحـدة الوجـودي فلسـفې ده او پـه دې سـبب هـم چـې هغـه د "سـړه بنـې" سره د "کرلاڼې" ذکـر خـو کـوي ولـې پـه سـړه بنيـو کښـې بيـا د رحمـان بابـا نامـه پـه خصوصـي طـور اخلـي چـې د غـزل ځواب ئې هم کوي.

❁❁❁

# حوالې

(1) ځېړنــوال، شــينواری دوســت، د صــديق ديــوان، د افغانســتان د علومو اکادمۍ د ژبو او ادبياتو انسټيټيوټ کابل، 1358هـ ش، مخ ز.

(2) عبدالصـمد خـان، ميـر، شـاعر انسـانيت، مقدمـه د عبـدالحليم اثـر افغاني، پېښور چاپ، مخ 13.

(3) هم دغه، مخونه 192، 231.

(4) رښــتين، صــديق الله، د صــديق د ديــوان تعــارف مشــموله کابــل مجله، 1343هـ ش.

(5) ځېړنوال، دوست شينواری، د صديق ديوان، مخ ج.

(6) هم دغه، مخ هـ.

(7) هم دغه، مخ م.